د افغانستان بانک
د غیر بانکي مالي مؤسساتو د څارنې لوی آمریت
د مقرراتو او د برېښنایي پیسو او اداېنیزو مؤسسو د څارنې مرستیالیت
د مقرراتو ستر مدیریت

گڼه: ۱۷۰۹
نېټه: ۱۴۴۸/۱/۲۹

بسم الله الرحمن الرحیم

**د صرافیو او پولي خدمتونو د قدر وړ اتحادیو ته!**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته،

**نوعیت:** متحدالمال

**موضوع :** پـه مالي معاملو کې د دوه نمره یي، خلاف د انواعیې او د نه منلو وړ بانکنوټونو د کارولو د مخنیوي په هکله

له ډېر درناوي وروسته؛

په دې وروستیو کې د اسعارو د لیلام په پروسه کې د ځینو ګډون کوونکو د صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو په پیسو کې یو شمېر دوه نمبره یي خلاف د انواعیې او د نه منلو وړ بانکنوټونه لیدل شوي دي، چې د افغانستان بانک د لارښوونو سره سم د اړینو کړنو د نه ترسره کېدو ښکارندويي کوي چې له امله ئی ۳۴ سرغړونکو د صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو ته لیکلې سپارښتنې (توصیې) صادرې شوې دي.

له همدې امله، موضوع د صرافیو او پولي خدمتونو د قدر وړ اتحادیو له لارې ټولو صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو ته خبر ورکول کېږي چې په مالي معاملو او په ځانګړي ډول د اسعارو د لیلام په معاملاتو کې د دوه نمره یي، خلاف د انواعیې او د نه منلو وړ بانکنوټونو کارول منع دي چې پورته ذکر شوو کړنو د لیدو په صورت کې به د اړونده شرکتونو سره د صرافانو او پولي خدمتونو د ځانګې قانون او د کړنلارو په رڼا کې جدي چلند کیږي.

موضوع په پورته توګه تاسو ته د نورو کړنو په پار ولیکل شوه.

د افغانستان بانک ستاسو په چارو کې د لا بریاوو غوښتونکی دی. **والسلام**

۱۴۴۸/۱/۲۸

صدیق الله خالد
**د افغانستان بانک لومړی مرستیال**

**کاپي:**

- د ریاست دفتر د قدر وړ لوی آمریت ته (زونونو ته د لیږلو په موخه)؛
- د بانکي عملیاتو د قدر وړ لوی آمریت ته؛ او
- د بازار عملیاتو د قدر وړ لوی آمریت.